# ببرک کارمل


ببرک کارمل

ببرک کارمل د ۱۹۲۹ م کال د جنوري پر ٦ نېټه په يوه ثروتمنده کورنۍ کي زېږېدلئ وو پلار يې عسکري جنرال وو .

لوړي زده کړي يې د کابل پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کي کړي وي . په پوهنتون کي د زده کړو په وخت کي د مارکسيستي فلسفې سره د پلوي کولو نظر ور سره پيدا سوئ وو . د ۱۹٦٥ م کال د جنوري پر لومړۍ نېټه د خلک د ديموکراتيک ګوند د لوړو غړو د جملې څخه و شمېرل سو .

په ۱۹٦٥ م کال کي د ملي شورا غړئ سو . په ۱۹٦۷ م کال کي د خلق د ګوند څخه جلا سو او د پرچم په نامه يې يو ګوند منځ ته راووړ چي مرام يې هغه د خلق د ګوند مرام او د هغه يوه شوروي هيواد پلوي وه .

کله چي داود خان د افغانستان اولسمشر سو نو د پرچم د ګوند يو زيات شمېر غړي د هغه په حکومت کي مقرر سوه . خو پخپله ببرک کارمل کوم مقام تر لاسه نه کړ . د محمد هاشم ميوند وال تر وژل کېدو وروست د پرچم غړي يو يو د داود خان د حکومت څخه لېري کړه سوه .

د نور محمد تركي د حکومت په لومړي سر کي د خلق او پرچم د ګوندونو تر منځ مخالفت پيدا سو . تركي و کولای سواى چي د پرچم د ګوند لوړ پوړي غړي د هيواد څخه بهر و لېږي . ببرک کارمل يې په پراګ (چکوسلواکيه) کي سفير مقرر کړ ، ځيني يې بنديان کړه او يا يې و وژل . ببرک کارمل د پراګ سفارت پرېښود او ماسکو ته ولاړ او هلته د حفيظ الله امين تر وژل کېدو پوري پاته سو .

د ۱۹۷۹ م کال د ډيسمبر په اخرنيو ورځو کي سربېره پر دې چي امين پر قدرت وو . د شوروي اتحاد عسکري الوتکي د کابل پر هوايي ډګر ټانکونه او



نور جنګي سامانونه را کښته کوي. څو هغه وو چي د ډيسمبر پر ۲۷ نېټه د شوروي اتحاد عسکرافغانستان ته ننوتل. مخامخ يې د امين پر کور چي د دارالامان په ماڼۍ کي وو اوربل و کړ او حفيظ الله امين يې و واژه.

ببرک کارمل چي په خپله په افغانستان کي نه وو د تاشکند څخه يې د راډيو د لاري بيانيه ور کړه. ځان يې د افغانستان د انقلابي شورا د ريس په توګه معرفي کړ . کله چي ببرک کارمل هيواد ته راغئ نو لومړی يې کوښښ و کړ چي بيرغ ته تغيير ور کړي. دا چي په افغانستان کي د شورويانو مستقيمه ښکاره اينښودنه د افغان اولس د غوښتنو په خلاف وه نو سمدستي جهاد پيل سو او بيا نو نه شورويانو او نه خلقيانو او پرچميانو د ارامي ګوله خولې ته پورته کړه.

پر افغان اولس باندي زيات ظلمونه و سوه. ډېر خلک څوک و وژل سوه او څوک د هيواد څخه وتلو ته اړ سوه. پسله ډيرو جنګونو او قربانيو ور کولو څخه شوروي اتحاد دې ته مجبور سو چي د خلقي حکومت چاري د خلکو د غوښتني سره برابري کړي. ببرک کارمل د ملي شورا او اساسي قانون او ازادو انتخاباتو خبري پيل کړې. خو خلکو نه شورويان او نه ببرک کارمل مانه. څو په پای کي شورويانو هڅه و کړه چي افغانان پدې و غولوي چي يو پښتون اولسمشر ورته و ټاکي. هغه وو چي د ۱۹۸٦م کال د مې په مياشت کي يې محمد نجيب الله منځ ته راووست او ببرک کارمل يې د ناروغۍ په پلمه ماسکو ته واستاوه.

ببرک کارمل د ۱۹۹٦م کال د ډيسمبر پر ۳ نېټه په ماسکو کي د اينې د سرطان په ناروغي مړ سو . د ده مړی د شوروي اتحاد په يوه عسکري الوتکه کي مزار شريف ته د ښخېدو د پاره په داسي وخت کي راوړه سو چي په هيواد کي د طالبانو د منځ ته راتلو لومړي وختونه وه.